مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۴/۰۴/۱۸

# زمور په کلي کې د پیغلو میره

نن د خپل کلي پر کورونو گرځم

له مودو وروسته اوس راغلي يمه

زه مي همزولي لټوم غواړم ديدن يې وکړم

د خپل مالت تر ټولو ښکلي پيغلي کورته ورځم

دي ته **به** ټولو ويل

دا ده د پيغلو ميره

او په گودر کې به مدام زليده

اوس چې زه کلي ته راغلي يمه

د دې د کور پر دروازه زه وردننه شومه

پر يو زوړ کت مخامخ ناسته د هدوکو ډانچه

تر تور پوړني لاندې دواړه سترگې

راته له ورايه بليدلې ښکاري

د خولي غاښونه يې و کندوکپړ

زه په شکمنو سترگو څنگ ته يې لاړم

هلته څو تنه وې ولاړې ښځې

ترينه تپوس مې وکړ دا څوک ده؟

له دوي دوه پيغلو راته غبرگ وويل:

تا چې غوښتل له نږدې وې گورې همدا ده کنه!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ما کړه چې دا ګل خندانه نه ده

هغوي ويل ګلي همدا ده کنه!

ما ويل چې دا ورباندې څه شوي دي؟

زموږ د کلي سپوږمۍ مخې څه بلا وهلې؟

هغوي کړه پلار او څلور ورونه يې جګړو وخوړل

خو د دې د کوژده شوي زلمي ژوند لنډ و

لاړ د ماينونو ښکار شو

موريې له ډيره غمه

سر په کفن تاو کړ

او دا په دې کور کې يوازې اوسي

په خپلو ښو بدو خبره نه ده

که له ګاونډه يو څوک

څه د خوړو له پاره ورکړي خو ښه

که چا تپوس د حال يې ونه کړ

دا وی همداسې بيا نهره مدام



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ